Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختگ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲٦مه گڼه | پرله‌پسې ۴۰مه گڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۷/۱۷



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې گڼه کې لولئ:

۱- هرات کې څه کم ۱۳ زره راستانه شوي کډوال په کار بوخت شوي

۲- اروپايي هېوادونو سره سوداگري زياته شوې

۳- له ازبيکستان سره د اقتصادي اړيکو پراختيا په لور مهم گام اخيستل شوی

# هرات کې څه کم ۱۳ زره راستانه شوي کډوال په کار بوخت شوي



د هرات سیمه ییزو مسوولینو ویلي، په وروستیو کې له ایران څخه ۱۲۶۰۰ راستانه شوي افغان کډوال د هرات په صنعتي ښارګوټي کې په کار بوخت شوي دي. په تېریوه کال کې له ایران څخه زرګونه افغان کډوال وایستل شول چې ګڼ شمېر یې بې وزله افغانان و او ایران ته د کار له پاره تللي وو. د ایران د حکومت له لوري له شړلو او افغانستان ته په راتګ سره ګڼ شمېر افغانانو د بېکارۍ وېره درلوده، خو هېواد ته په راتګ سره یې دندې وموندلې او اوس د خپلو کورنیو له پاره عواید لري. یو شمېر راستنو شویو کډوالو هېواد ته په راتګ خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې دوی داسې فکر نه کاوه چې افغانستان ته په تګ سره به کار وموميا او بوخت به شي.

هرات د هېواد له سترو او مهمو صنعتي ولایتونو څخه دی. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وړاندې په هرات کې د فابریکو شمېر کم و، خو له کله چې اسلامي امارت حاکم شوی او پانګونه جذب او د خصوصي سکتور ملاتړ او دې برخې ته اسانتیاوې ورکړل شوې، نو د فابریکو شمېر له ۱۰۰۰ څخه زیات شوی دی، چې دا د هېواد په عمومي اقتصادي وضعیت ښه کېدو او کورني ناخالص تولید لوړېدو کې پام وړ رول لوبوي.

اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو له پاره مختلفې پروژې پیل کړې دي. په هرات ولایت کې د تاپي مهمه پروژه د همدې موخې له پاره ده، څو هرات ته د ترکمنستان د ګاز په رسېدو سره په هرات ولایت کې اقتصادي فعالیتونه زیات او ګڼ کاري فرصتونه ایجاد شي.

# اروپايي هېوادونو سره سوداګري زیات شوې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولینو ویلي، له اروپایي هېوادونو سره د افغانستان سوداګري زیاته شوې او د روان زېږدېز کال په اتو میاشتو کې د



افغانستان د ټولو صادراتو کچه څه باندې ۱۷ میلیون ډالر وه. د مسوولینو په وینا، د سوداګرۍ دغه کچه د تېر کال په پرتله زیاته ده.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي، له تحول وروسته چې له کومو هېوادونو سره د سوداګرۍ او نورو برخو کې کومې ستونزې رامنځته شوې، هغه حل کړي او د افغانستان سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي.

افغان سوداګر وايي، اروپايي بازارونو کې د افغانستان محصولاتو ته تقاضا زیاته ده. افغانستان ښه وچه او تازه مېوه لري. د دې ترڅنګ قالینې یې هم په اروپايي

بازارونو کې ښه بازار لري.
افغانســتان کرنیز او پــه مالــداری ولاړ اقتصاد لــري، چې د کورنیــو تولیداتو او محصولاتــو د ملاتړ له پاره لــه ګاونډیو ور اخوا نــورو بازارونو ته لاسـرسی ډېر اړین ګڼل کېږي. په همدې موخه په دې ورو‌سـتیو کې له ځینو اروپایي هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې نږدې شوې دي او هڅه کېږي چــې له ټولو هېوادونو ســره دغه ډول اړیکې پراختیا ومومي.
د هېواد ســوداګرو ته هم په کارده چې په خپلو صادراتو کې د صادروونکو هېوادونو معیارونــه په پــام کې ونیــسي او د توکو معیار او بســته بندی او نورو مســایلو ته پوره پاملرنــه وکړي، ځکــه دا د هېواد د حېثیت او هلتــه د بازار موندلو له پاره ډېر ضروري دي.

## لــه ازبیکســتاني شــرکتونو ســره د اقتصــادي اړیکــو پراختیا په لور مهم ګام اخیســتل شــوی

د افغانســتان اسلامي امــارت د اقتصادي اړیکــو پراختیا، بهرنــۍ پانګونې د جذب او کاري فرصتونو د ایجاد په موخه یو شــمېر ازبیکســتاني شــرکتونو تــه د کانونــو د استخراج جوازونه ورکړي دي.
امــارتي مســوولینو ویلي، لــه دې لارې غواړي په افغانستان کې پانګونې ته زمینه برابره کړي.
افغانســتان تــرځمکــې لانــدې ډېــره نا اســتخراج شــوې شــتمنې لري او د دغې شــتمنۍ اســتخراج کــولی شي چــې افغانستان په ډېرو برخو کې ځان بسیاینې ته ورسوي. افغانســتان کې ګاز، تېل، مس او نورې زېرمې شته چې د ځینو زېرمو د استخراج چارې پیل شــوې دي. د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیســۍ پر بنسټ هر بهرنی او کورنی شرکت کولی شي چې په افغانستان کې له اصولو سره سمه پانګونه وکړي. اوســمهال د ازبیکستان په ګډون د ګڼــو هېوادونــو پانګــوال او شــرکتونه په افغانســتان کې په مختلفو سکټورونو کې په پانګونه بوخت دي او په هېواد کې د ګڼو کاري فرصتونو د ایجاد لامل شوي دي.

